SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

څلورم کال یونوي یمه گڼه پرله پسي (۲۸۱)یکشنبه د۱٤۲۰هـ ق کال دشعبان المعظم (۲۷)د۱۳۷۸هـ ش کال د لندی دمیاشتي(۱٤)د۱۹۹۹میلادي کال د دسمبر (۵)

د بلخ او جوزجان په ولایتونو کي :

د علماي کرامو د شوراگانو د جوړولو کار پیل شو

د عالیقدر امیر المومنین له لارښوونې سره سم د بلخ او جوزجان په ولایتونو کي د علماي کرامو د شوراگانو د جوړولو کار پیل شو .

د بلخ او جوزجان له ولایتونو نه د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریالانو خبر راکړ .

په هغي غونډه کي چي له همدي امله د بلخ ولایت د عالمانو او د امارتي چارواکو په گډون د مزار شریف په ښار کي جوړه شوي وه لومړي د سرحدونو او قبایلو د چارو وزیر محترم الحاج مولوي جلال الدین حقاني د علماي کرامو د شوراگانو د جوړولو د ارزښت او اړتیا او د هیواد د حیاتي او ټولنیزو مسالو په حل کولو او د افغانستان د اسلامي امارت د ستنو د ټینگښت په کار کي د هغو د رول په باره کي خبري وکړي او د علماي کرامو د شوراگانو د دندو د لایحي په باره کي یې حاضر بنو ته هر اړخیز معلومات وړاندي کړل .

وروسته د بلخ په ولایت کي د علماي کرامو د شوراگانو د جوړولو کار پیل شو .

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

په بدخشان کي :

د مخالفینو خپل منځي جگړی یو ځل بیا تودی شوي

په وروستي جگړه کي څه د پاسه څلویښت تنه مړه او ټپیان شوي دي

د موثقو خبري سرچینو د تازه رپوټونو په اساس ویل کیږي چي په بدخشان کي د مخالفینو د دوو ډلو تر منځ خپلمنځي جگړي یو ځل بیا له سره پیل او تودي شوي دي .

په خبر کي راغلي دي چي د نجم الدین واثق تر وژل کیدو وروسته دغه جگړي د سیاف او مسعود د وسله والو څواکونو تر منځ پیل او اوس یې بیا شدت موندلي دي په دغو وروستیو جگړو کي چي اوس هم رواني دي څه د پاسه شپاړس تنه مړه او ۲٤ تنه سخت ټپیان شوي دي. په داسي حال کي چي د دواړو ډلو د پخلاینې هڅي د مشرانو له لوري رواني دي خو اوضاع اوس هم سخته کړکیچنه ده او د دغو جگړو دوام یې بقیني کړي دي.

د کندز ولایت د خیابان مدرسي د قرآن عظیم الشان د لسو تنو حافظانو د فضیلت پگړي وتړل شوي

د کندز ولایت د خیابان مدرسي د قران عظیم الشان د لسو تنو حافظانو د فضیلت پگړي پرون د یوي غونډې په ترڅ کي وتړل شوي .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغي غونډه کي چي له همدي امله د کندز ولایت د خیابان په مدرسه کي جوړه شوي وه . د کابل والي محترم ملا عبدالمنان نیازي محترم مولوي محمد حسین ، محترم مولوي قدرت الله، محترم قاري عبدالجبار او یو شمیر نورو علماي کرامو د قران ٤ مخ

طوفان شدیدي شمال اروپا را خساره مند ساخت

اولین طوفان خزاني با سرعت بیش از یکصدو هشتاد کیلو متر في ساعت خسارات سنگیني را در شمال اروپا شب گذشته بجا گذاشت .

به اثر این طوفان حد اقل ده نفر به هلاکت رسیده اند در هامبورک و ایالت شلیزلي کوشتن واقع در شمال آلمان آب دریا در اثر طوفان طغیان نموده وزیر زمیني بسیاري از منازل را فرا گرفت.

سقف تعداد زیادي از منازل از جا کنده شده در ایالت ېر نیورک و برلین طوفان شب گذشته خسارات شدیدي ببار آورد و دو نفر را به قتل رساندند.

د جاپان له تودای موسسي سره پروتوکول لاس لیك شو

د عامي روغتیا وزیر محترم الحاج ملا محمد عباس اخند پرون له غرمي مخکي د جاپان هیواد د تودا د مرکزي دفتر له رئیس ښاغلي اکیرا سره وکتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي کتنه کي پداسي حال کي چي د ملاریا او لشمانیا انستیتوت رئیس محترم داکتر ملنگ مسلم او د جاپان د تودا موسسي د اداري چانگي مسول ښاغلي انجنیر اورولان حاضر و د عامي روغتیا محترم وزیر په دي ترح کي چي په افغانستان کي د ملاریا او لشمانیا د ناروغیو اوسني حالت په مفصله توگه بیان کړ هغه مرستي ٤ مخ

د بهرنیو چارو وزارت محترم معین د پاکستان د اسلامي جمهوریت له لوي سفیر سره وکتل

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبدالرحمن زاهد پرون له غرمي مخکي د خپل کار په دفتر کي په کابل کي د پاکستان د اسلامي جمهوریت له لوي سفیر ښاغلي عزیز احمد خان سره وکتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي کتنه کي دواړو خواوو د علاقي وړ یو لړ موضوعگانو په باب خبري وکړي ٤ مخ

مجاهدین چیچن تلفات شدیدي به اشغالگران روسي وارد نمودند

عساکر روسي بصورت وحشیانه مهاجرین را هدف قرار میدهند

به گزارش منابع خبري بین المللي برخورد هاي شدید میان مجاهدین چیچن و اشغالگران روس در اطراف گروزني مرکز چیچین همچنان ادامه دارد. ص ٤

زمونږ د یو تن هیوادوال لخوا :

د گردیز له ملکي روغتون سره د درملو مرسته وشوه

زمونږ یو تن احساس لرونکي هیوادوال د گردیز له ملکي روغتون سره د پنځه څلویښت قلمو درملو چي د یو ملیاردو شپاړس ملیونو افغانیو معادل کیدي مرسته کړیده.

د گردیز له ښار نه د باختر د ٤ مخ

د نور روغتون په اړونده څانگو کی ۹۰ بستره د ناروغانو په خدمت کی دی

زمونږ گرځنده ټیم د هیواد والو د علاج په خاطر ولایتونو ته هم سفر کوی

د نور روغتون محترم رئیس

شریعت : قدرمنو لوستونکو! زمونږ خبریال د نور روغتون له رئیس او د سترگو د ناروغیو متخصص محترم داکتر عجب گل احمدی سره په مرکه کی د یوی پوښتنی په ترڅ کی د نوموړی روغتون د تاریخچی، فعالیت او څرنگوالی په هکله معلومات غوښتی او دغه رپوټ یې برابر کړی چی دا دی ستاسی د خبرتیا لپاره یې خپروو . ٤ مخ

د کرنی پراختیا بانک له کروندگرو سره گټوری مرستی کړی دی

شریعت : درنو لوستونکو! زمونږ خبریال د کرنی پراختیا بانک له رئیس محترم مولوی سمیع الله سلیم سره د کتنی په وخت د یوی پوښتنی په ترڅ کی د دغه بانک د تاریخچی او فعالیت په هکله معلومات غوښتی او دغه رپوټ یې برابر کړی چی دا دی خپروو یې .

په پیل کی محترم مولوی سمیع الله وویل : د کرنی پراختیا بانک اساسنامه په ۱۳۳۳ هـ ش کال تصویب او د ۱۵۰ ملیونو افغانیو لومړنی پانگی په درلودلو سره چی ۸٦ ملیونه یې د سهم ٤ مخ

در ولسوالي بره کي برك ولایت لوگر :

تیم والیبال ملا فضل الدین حائز مقام اول گردید

در نتیجه مسابقات که اخیراً میان دوازده تیم والیبال در ولسوالي برکي برك ولایت لوگر صورت گرفت تیم ملا فضل الدین حایز مقام اول گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : این مسابقات که طي سه روز گذشته میان دوازده تیم والیبال در ولسوالي برکي برك ولایت لوگر صورت گرفت در نتیجه تیم ملا فضل‌الدین مقام اول، تیم قلعه سنگي مقام دوم و تیم شفاخانه پنجاه و دو بستر برکي راجان مقام سوم را بدست آوردند.

مسابقه نیزه بازي در ولسوالي زرمت به راه انداخته شد

مسابقه عنعنوي نیزه بازي دیروز بین تیم هاي مختلف نیزه بازان ولسوالي زرمت به راه انداخته شد .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر گردیز خبر میدهد : این مسابقه جالب که ساعت دو بجه روز جمعه بین تیم هاي مختلف ولسوالي زرمت به راه انداخته شده بود بر علاوه تعداد زیادي از اهالي زرمت محترم مولوي احمد طه قادري والي ولایت پکتیا محترم مولوي عارف الله عارف ص ٤

در مقر سازمان ملل متحد :

گفتگو جهت حل بحران قبرس آغاز گردید

در شهر نیویارك مقر سازمان ملل متحد از دیروز به این طرف گفتگو جهت حل بحران قبرس آغاز گردید.

جزیره قبرس در سال ۱۹۷٤ به دو بخش یوناني زبان و ترکي زبان تقسیم گردیده است .

در این رابطه کوفي عنان سر منشي سازمان ملل متحد با رهبران این دو بخش طور جداگانه مذاکراتي انجام داد.

موصوف ابتداء با رهبر یوناني ص ٤

توسط یك جاني حرفوي در پاکستان:

صد طفل با بیرحمي زیاد به قتل رسیدند

لاهور : یکتن از قاتلان حرفوي اعتراف کرده که بیش از صد طفل در پاکستان را اختطاف و بعداً به قتل رسانیده است .

ملك محمد اقبال مسؤول امور امنیتي شهر لاهور مي ص ٤

سرمقاله



دلوي خداي (ج) په نامه

د علماؤ شوراگانی د څه لپاره ؟

لکه څرنگه چی د افغانستان اسلامی امارت د افغان د مسلمان ملت له متن څخه را ټوکیدلی دی همدا راز یی تل هڅه کړیده چی په ټولو ملی او بین المللی مسئلو او پیښو کی چی د هیواد په سیاسی افق او پراخه لمن کی راپیدا کیږی ملت په جریان کی وغورځوی، مشوره تری واخلی د ملت له غوښتنی او هیلی سره سم تصمیم ونیسی او بالاخره ټولی لویی او وړی پیښی د ولس له خوښی او غوښتنی سره سم د اسلامی شریعت په رڼا کی حل او فصل کړی چی په دی وروستیو ورځو کی د اسلامی امارت تر کنترول لاندی د هیواد په سلو کی پنځه نوی برخه خاوره کی د علماو د شوراگانو جوړول د همدی هدف یوه بله کړی ده . ۲ مخ

شريعت

دتأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (١٠٠٠) افغانی په پاکستان کی (٣) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ٢١٣٨١
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

هیوادوال خبر دی چی همدا اوس هم په مرکز، ولایتونو او ولسوالیو کی د علماو د شورا لپاره د جیدو علماو د ټاکنی کار په چټکی بسره روان دی او هره ورځ د هیواد له بیلا بیلو برخو څخه د علماو د شوری ګانو د جوړیدلو خبرونه اوریدل کیږی که په افغانستان کی د میشتو پرګنو ژوند دود، دینی او ملی روایاتو ته وګورو نو ویلی شو چی ان شاء الله دا غونډی به ډیری ګټوری پایلی ولری دا ځکه چی هیڅوک به په دی دعوه کی مخالفت ونکړی چی افغان مسلمان ولس له هر چا ډیر ربانی او روحانی قشر ته احترام لری او د علماو او روحانیونو ځانګړی عزت او قدر کوی ، هغوی ته معتقد دی، خپل لارښود او امام یی بولی، د هغه په فتوی او امر د خپل سر ورکولو ته چمتو دی. او د همدی اخلاص او عقیدت له مخی ده چی د طالبانو اسلامی تحریک د الله «ج» په بی ساری مرسته او د ملت په بشپړ ملاتړ سره د هیواد په سلو کی پنځه نوی برخه کی اسلامی شریعت نافذ کړ او د ظلم او فساد لمن یی ټوله کړه او د افغانستان د اسلامی امارت د مشرتابه مقام هم غوره وبلله چی همدا علما او روحانی قشر دی د امارت او ولس تر منځ د پول او رابط حیثیت ولری او دا ډیره غوره ټاکنه هم ده ځکه علما په شپه او ورځ پنځه ځله هرو مرو له ولس یا په بل عبارت له خپلو مقتدیانو سره وینی دوی کولی شی چی په ډیره اسانی سره د ولس له ستونزو څخه ځان خبر کړی حکومت ته د هغوی مشوری واوروی له حکومت څخه د خلکو په هیلو او غوښتنو ځان پوه کړی او بیایی اړوندی ولسوالی، ولایت یا مرجع ته ورسوی او ملت کولی شی چی په ډیر داده زړه او ارامه قضا کی خپل عرض د شوری غړوته وړاندی کړی ځکه چی د شوری دا غړی خو په حقیقت کی په خپله همدی ملت د امارت لپاره شوی یا صلاحیته هیئت ته وړپیژندلی دی او د خپلو استازو په توګه یی ورلیږلی دی. همدا راز د امارت مقام هم ښه په اسانی سره په دی توانیدلی شی چی د علماو پواسطه خپل اهداف او مقصدونه ولس ته تشریح کړی، خپله کړنلاره روښانه کړی، او ولس له هغو هیلو او امیدونو څخه نور هم ښه خبر کړی چی امارت یی له ولس څخه لری .

همدا راز حکومت کولی شی چی هغه احتمالی سو تفاهمونه چی په طبعی ډول کله نا کله د حکومت او ولس تر مینځ را پیدا کیږی ددی علما و په واسطه په اسانه سره حل کړی ځکه علما ددی تر څنګ چی تر هر چا په انډول له خدای څخه ډیره ویره تقوی پوهه او دینی بصیرت لری په ولس کی ډیر اثر او رسوخ هم لری او هر څوک یی د لارښوونی منلو ته چمتو دی.

د علماو د شوری یوه بله ګټه دا هم ده چی که چیرته په کومو ادارو کی بده استفاده یا اداری فساد را پیدا شی نو تر ډیره حده به د اداری فساد ، رشوت ، غدر خیانت، اختلاس او بدی استفادی مخه هم ونیول شی ځکه د علماو دی شوری ته چی د امارت د مقام لخوا ټاکل شوی دی ډیر واک او اختیار ورکول شویدی.

د دوی خبره ډیر وزن لری او په ډیره داده زړه به د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضه هم ادا کړلی شی او که خدای مکړه کوم مسول چیری د خپل مقام څخه ناوړه ګټه پورته کړی نو دوی یی مخه هم نیولی او لاس لنډولی شی.

د شوری اصل په اسلام کی خاص ځای لری او تجربو ثابته کړیده چی مشوره د ډیرو برکاتو او بریالیتوبونو لامل هم دی او دا په ډیره کمه پیښه شوی وی چی له مشوری او مصلحت څخه وروسته تر سره شوی کار باندی چا پښیمانی ښکاره کړی وی نو د علماو په شوری سره په یو بل الهی ارشاد باندی هم عمل وشو .

په لنډه توګه ویلی شو چی د علماو دا شوراګانی به ان شاء الله چی ولس ته ډیری اسانتیاوی او نیکمرغی ور ډالی کړی او له خپل امارت سره به یی اړیکی نوری هم ټینګی شی الله «ج» دی امارت او ولس د وراړو ته لا ډیر توفیق ورکړی چی د اسلام او وطنوالو د هوسا ژوند لپاره لا ډیری هلی ځلی وکړی او د اسلام او هیواد د دښمنانو دسیسی نوری هم شنډی کړی . امین

اسلامي امارت د افغانانو پر ملي هیلو او غوښتنو ولاړ دی

مولوي غلام فاروق

پردی حقیقت باندی څوک سترګی نه شی پټولای چی اسلامی امارت د افغان مومن ملت د ډیری اوږدی مبارزی او بی ساری قربانی په نتیجه کی منځ ته راغلی، نو خامخا به ددی میړنی ولس د ټولو دینی او ملی هیلو او ارمانونو ساتونکی او ښکارندوی وی، دا ځکه چی د امارت قیام د یو داسی خوځښت په پایله کی را منځ ته شو، د کوم په پیل کی چی هیڅ پردی لاسونه نه دی لګیدلی ، په دی معنی چی نه ورته چا د کومی تګ لاری پلان ورکړی، نه ورته چا څه پټی سیاسی مشوری ورکړی او نه څه بهرنی مرستی ورسره شوی دی بلکه دا بیخی جوته ده چی د طالبانو د اسلامی تحریک پیل د همدغو بهرنیو لاس وهنو پر خلاف یو ملی عکس العمل و او ښکاره ده چی په هغه وخت کی د بیلا بیلو غرضی هیوادونو ځان ځان ته نظامی هډی او ځانګړی سیاسی ټولنی په هیواد کی په خوراچټکي سره په کار بوختي وي نو په همدی بنا د امارت مشرانو تل دا هڅه کړي چی د افغانستان ملی وياړلی تاریخ ژوندی وساتی او هیڅکله د یو داسی پروګرام منلو ته غاړه کښینږدی چی هغه د افغانانو د دینی انګیرنو، ملی دود او تاریخی ویاړونو سره ټکر لری او همدا د ملت د غوښتنو خبره ده چی اسلامی امارت د نړی د ښکیلاک ګرو راز راز دباوونه پر ځان منلی، خو پر خپلو اصولی تګ لارو یی سوادنه ده کړی.

په دی لړ کی یو عادی افغان هم کولای شی په یو څغلنده نظر د امارت د ټولو پالیسیو اندازه ولګوی چی هغه د ملت له خوښی سره څومره سمون لری ؟

مثلاً د ښځو د حجاب مسأله چی زمونږ داخلی او بهرنی دښمنان یی په ډیره بی انصافی سره په نړی کی خپروی - خو هر افغان ته په خپلی ځانګړی سروی دا ځرګندیږی چی ټول ملت د اسلامی حجاب په کلکه پلوی کوی بلکه له مودو مودو راهیسی همدغه د افغانانو یو کلک دود دستور دی او هیڅ مسلمان افغان یی مخالفت هم نه شی کولاَ .

او یا لکه د اسامه (عرب جاهد میلمه) خبره چی ټول ملت همدغه د امارت پالیسی تایدوی بلکه امارت د خپل ملت په نمایندګی همدغه دریځ غوره کړی دی په دی هکله هم کوم افغان وګړی د بلی خبری حق ځان ته نه ورکوی مګر چا چی د پردیو دالرو ته سترګی پټی کړی او د خپل دین، ملی عنعناتو او افغانی تاریخ په خلاف خبری کوی هغو ته افغانان نه، بلکه د افغانانو ملي خاینان ویل کیږی .

دا چی اسلامی امارت تل د ملت په لا مشوره او د هغوی د هیلو او غوښتنو سره سم په هره معامله کی مخ په وړاندی درومی، یوه ښه بیلګه یی په دی وروستیو وختو کی د ټول هیواد د ولایاتو او ولسوالیو په سطح د علماو محلی شوراګانی جوړول دی چی په دی لړ کی د امارت یو بل ډیر مهم او بنسټیز ګام بلل کیږی په دی سره به تر ډیره حده چارواکي سیمه ایز حکومتونه د یوولسی څارونکی ځواک تر کتنی لاندی راشی او د هری سیمی خپل خپل مسایل به په ډیر ژور ډول د هغوی په محلی امارت ادارو کی مطرح شی له بلی خوا به د ځینو هغو آوازو او پروپاګندو هم تر ډیره مخه ونیول شی چی د سیمه ایزو حکومتی ادارو د ناسم چلن په هکله یو ځای بل ځای اوریدل کیږی او هر مظلوم او کمزوری کس به وکولای شی چی په ډیره ښه توګه خپلی غوښتنی په داده زړه سیمه ایزو مسولینو تر غوږونو ورسوی او د عدل او انصاف غوښتنه وکړی.

لنډه دا چی اسلامی امارت تل دا هڅه کړی چی د ملت د هیلو او آرزو ګانو ساتنه وکړی هغو ته ارزښت ورکړی او په هره معامله کی په همدی خپل مومن او مجاهد ملت باندی اعتماد او تکیه وکړی نو په غوڅ ډول ویلای شو چی اسلامی امارت د افغانانو د ټولو دینی، تاریخی او ملی غوښتنو ډیره ښه نمایندګی کولای شی او په دی لړ کی د دښمنانو ټول تبلیغات پوچ بی اساسه او خالص د حقیقت او واقعیت پر خلاف دی.

تردید الزام پراگني كوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد

بیمار

پیرامون گزارشات انباشته الزام پراگني اخیر کوفي عنان سر منشي سازمان ملل متحد در اجلاس سالانه مجمع عمومي علیه افغانستان عالیقدر امیر المومنین، دلیر مرد مجاهد و رهبر گرانقدر ما طي مصاحبه با نماینده باختر صراحتهاي فرموده که میسزد بر فشرده آن مرور کرد :

چنانچه جهان کفري در رأس امریکا و آله دستش کوفي عنان، نتوان پرتو مقدس اسلام و نهضتهاي اسلامي را در هیچ گوشه از گوشه هاي جهان به نظر حرمت یا دست کم بچشم باز نگریست. ناگزیر به نحوي از انحا ،در صدد شد با- گزاردن داغ سیاه جنایت بدامان پاك اسلام به نهج ممکن هر کجا و هر رنگي باشد در راه نضج نهضت هاي اسلامي ایجاد مشکل کرد، و موانع نابسامان تراشید. نگذاشت جوانه هاي این فرخنده بنیاد بزرگ و- بزرگتر شد.

از آن جمله میشود یکي هم کشور افغان باشد که با طلیعه و درخشش نهضت طلبه توانست بقلع و قمع عناصر شر پسند، آن جنگ افروزان، ویرانگر خانه بر انداز دین و مذهب، به نیت فاسد بر کندن بنیاد و خجسته اهداف جهادي حاکي حاکمیت دین مبین اسلام و انفاذ شریعت تامین امنیت و شامل فلاح و بهبود همه جانبه افراد، آزادي فردي و اجتماعي در ساحه بیش از ٩٥ فیصد کشور فایق آمد معهذا از روز ورود طلیعه و تأسیس امارت اسلامي تا کنون پیوسته مورد مزاحمت هاي غم انگیز آن ضربه هاي خورد کننده، ناشي از فیر هاي آتشین ابر قدرت هاي کفري در رأس امریکا قرار دارد، که یکي هم از آن، باري بپا ساختن، راه انداختن جسد نیمه جان دلهره ، روحیه باخته و رمق شمار « رباني- -مسعود » در مرز شمال، کنار تاشکند، آن گوشه از کشور روسیه ، آن دشمن، قاتل بیش از یکنیم ملیون شهید مرکب از زن، مرد ، پیر و برناي میهن بخاطر تخدیش نهاد اسلام در افغانستان باشد.

ورنه امارت اسلامي با تأمین امنیت سراسري تعمیم حقوق عامه در پرتو موازین اسلامي ، آن قانون الهي و انفاذ شریعت ، دگر مشکلي در باز سازي کلیه امور موافق نیاز روز مردم نداشت پیروز- مندانه به همت نیروي مؤمن مردم زحمتکش در قلع و قمع موانع از سر راه کاروان تمدن پرداخته میرفت.

چون جهان کفري، در رأس امریکا و یارانش از جمله کوفي عنان که با بکار برد نیرنگها و تحریکات میسور و مقدور گوناگوني روي پرده و پشت پرده نتوانست مسیر کاروان اسلامي را در امر تعقیب اهداف مقدسش سد کرد کنون با نیرنگ تازه و تازه تر تأسیس شعبه از اداره مرکزي سازمان ملل در داخل افغانستان میخواهد به بهانه مراقبت نقض حقوق بشرد ر افغانستان مرفه ، برخوردار از انواع حقوق مدني اسلامي در واقع بخاطر در هم ریختن روند اسلامي در افغانستان چون عراق تدارك کرد. و این که هرگز به پیشگاه مردم عذابدیده شریف و مؤمن افغانستان قابل قبول نباشد.

هرگاه این اقدام واقعاً از روي حسن نیت، دلسوزي بمردم مؤمن افغان باشد، چرا آنگاه که در فرصت جنگهاي تنظیمي جان افغانستان در انبار دود و آتش باروت میگداخت بتأسیس همچو اداره نپرداخت که اکنون در حال تأمین امنیت، کمال آزادي فردي و اجتماعي برخورداري از حقوق شرعي ممثل اهداف جهاد و تمنیات بیش از یکنیم ملیون شهید براي اجرا همچو امري سر از پا نا- شناخته طنیني در فضاء عالم براه انداخته اند !!

هم چنین باشد فحواي گزارش کودکان کمتر از سنین ١٤ در صفوف طلبه مبارز جبهات مقدم علیه مخالفان شمال،زیرا همزمان با گزارش عنان با استفاده از حسن اتفاق آن وجود اریك دیمول ناظم کمك هاي بشري ملل متحد هیأتي همراه با وي بموازات جبهات مورد نظر اعزام گردیدکه با ملاحظه صفوف متذکره از نزدیك تکذیب گزارشات نامستند را تایید و بصراحت گفت : در صفوف طلبه جبهات شمال افراد کمتر از سنین ٢٢-٢٤ بملاحظه نه پیوست یحتمل گزارشات عنان روي اطلاعات نا مستند تهیه شده باشد.

همچنان مظالم روسیه بر چیچنیا آن کشور آزاد و مستقل بیش از یك ملیون نفوس مؤمن رقبه محدود این فرخنده هسته و خجسته تحفه امپراتوري اسلامي عثماني در شمال قفقاز آن کشور مجاهد سر سخت حایز مبارزه بیش از دو قرن در راه استقلال طلبي با روسیه تزاري که بشمول عهد الحادي شوروي تا ١٩٩٦- دست بسلاح داشته، پس از سه سال و اند کسب آزادي از روسیه کنون باري به بهانه بمبگزاري ساختگي در مسکو از سه ماه باینطرف از زمین و هوا زیر آتش انسانیت سوز روسیه قرار دارد، چنانچه بالأثر رو بهمرفته نیم نفوسش، از بین رفته و هنوز فجایع روسیه در چیچن بزور و شدتش فزوني گرفته میرود که نه تنها جهان کفري و سازمان ملل، بل سران کشور هاي ٥٣ گانه مسلمان نیز در برابر این فاجعه جگر خراش اسلامیت سوز با تطمیع جهان کفري بدون ابراز حرف و اظهار عقیده در زمینه پخته بگوش و مهر بر لب دست زیر الاشه نشسته آهي بجگر نمي کشند مورد افسوس و دریغ بیدریغ باشند.

امیدواریم جهان کفري در رأس امریکا و سازمان ملل با رعایت حفظ حرمت السنه عقاید و مذهب اقوام و ملل بفحواي کریمه آیه « بریدون لیطفؤ ... » دست از تلاش نا فرجام علیه تضعیف و سرکوب دین مبین اسلام و مسلمین در اقطار عالم خاصه افغانستان بر کشید و بیش ازین بشریت خواهي کرامت بشري را بخاطر تعقیب اعمال شوم شان مفتضح نساخت چه

«چراغي را که ایزد بر فروزد
هر آنکو پف کند ریشش بسوزد»

ورنه نزد تاریخ بشریت سر افگنده خواهند بود.

لکه څنګه چی لیدل کیږی ډول ډول مشروبات لکه پیپسی، کوک، فانتا، سپرایت، معدنی اوبه جوس او داسی نور مواد له بهر څخه افغانستان ته راوړل کیږی او له دی لاری زموږ بی حسابه ملی پانګه بهر ته وځی څرنګه چی زموږ ګران هیواد راز راز بی مثاله خوندوری میوی او په ټولو ضروری معدنی موادو ډکی د پاکو اوبو چینی لری نو لازمه ده چی ژر تر ژره د هیواد دننه داسی صحی کار ځایونه چی د میوو جوس خوندور شربتونه او د چینو اوبه په مناسب ډول بسته بندی او په هیواد کی بی د څښاک په خاطر بازارونو او هوټلونو ته عرضه کړی او حتی بهر ته بی هم صادر کړی تاسیس شی لکه پخوا چی د کندهار د میوی شرکت په دی هکله یو څه کار کړی وو په دی ډول به له یوی خوا ملی پانګی ته یو څه قوت وروبخښل شی له بلی خوا به هیواد وال د بهرنیو مشروباتو له زیانمنو اغیزو څخه چی د ډول ډول کیمیاوی موادو

له اقتصادی بندیزونو سره د مقابلې لارې چارې (۳)

داکتر احمدزي

د استعمال له کبله په هغو کی شته، خوندی وساتل شی، همدارنګه په دی لړ کی دی له بهر څخه د شیدو، کوچو، قیماق، مربا، ترشی او داسی نورو خوراکی توکو راوړل دی هم منع شی دا ځکه چی نوموړی خواړه بنسټیزی اړتیاوی نه شمیرل کیږی او په عین حال کی زموږ ګران هیواد د نوموړو خوراکی موادو پریمانه امکانات هم لری البته د هغو ماشومانو د تغذیی په خاطر چی د مور شیدی نه ور رسیږی د تغذی متخصصین لازمی لاری چاری غوره کړی.

خپلو بازارونو ته په کتو سره حتی داسی شیان هم وینو چی انسان د حیرانتیا په سمندر کی ډوبوی مثلاً په لوکسو پلاستیکی کڅوړو کی د بهرنی کیک موجودیت چی زموږ د هیواد بازارونه تری ډک دی پورتنی وضعی ته په کتو سره یو نابلد کس ته به حتماً دا فکر پیدا شی چی حتماً افغانان هم د کویت او ځینو نورو شتمنو هیوادو په شان دومره بډای دی چی باید هر څه ښه او اعلی درجه تیار ورته راوړل شی او بیا دوی استفاده تری وکړی په داسی حال کی چی افغانستان په نړی کی دوهم یا دریم ډیر غریب هیواد ده او بالکل مناسب نه ده چی دومره نازولی او تیار خواره وروزل شو چی حتی کیک هم له بهر څخه راته راوړل شی دی ټکی ته هم باید کلکله پاملرنه وشی تیره ورځ د یوه تجارتی شرکت مسول راته وویل چی زموږ د هیواد ډیر زیات پوستکی او څرمن بهر ته استول کیږی او په ارزانه بیه له لاسه وځی په مقابل کی بهرنی صیقل شوی ځلیدونکی مصنوعی څرمنی بیرته د سوداګرو لخوا هیواد ته راوړل کیږی او دلته ترینه عصری جمپرونه او واسکټونه جوړیږی هغه وویل چی حتی په نوموړو څرمنو کی د خنزیر څرمنی هم شته پریمانه راوړل کیږی پورتنی موضوع ته په ځیر سره له کتو وروسته معلومیږی چی متاسفانه زموږ ځینی سوداګر فقط خپلی ګټی او سمدستی ګټی په نظر کی نیسی خپل ګران بیه شته په ارزانه بیه بهرنیانو ته ورسپاری او بیرته له بهره داسی څه راوړی چی فقط او فقط ددی خوار ولس جیبونه پری خالی کړی که زموږ سوداګر سمدستی ګټی په پام کی ونه نیسی لږ له حکمت څخه کار واخلی او دا فکر په ځان کی تقویه کړی چی د ګټی تر څنګ د خپل هیواد په پر مختګ کی هم باید یو څه برخه واخلی ښایی چی د غیر ضروری او اضافی لوکسو مصرفی شیانو په ځای د ژوند اساسی او ضروری توکی هیواد ته وارد کړی او په خپلو اضافی پانګو د کوچنیو ژر ګټی ورکوونکو صنعتی کار خانو بنسټ کیږدی په دی توګه یو خوبه وروسته له لږ ځنډ څخه د هغوی فابریکه د ښی ګټی اخستلو وړ وګرځی، له بل پلوه د هیواد د پر مختګ لاره به هواره شی، د هیواد خام پیداوار به بیرته په هیواد کی په ګټورو توکو بدلیږی او له بهر څخه واردیدو ته به بی اړتیا نه پیدا کیږی او همدارنګه زیاتو بیوزلو هیوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شی په دی صورت کی به سوداګرو ته هم خرما په لاس ورشی او هم ثواب.

البته په دی هکله باید مسول امارتی چارواکی هم ژر تر ژره یو منظم پر مختیایی پلان جوړ او د سوداګرو مسولیتونه په عملی توګه تنظیم او هغوی ته د کار او فعالیت چوکات ور په ګوته کړی او په دی لړ کی له ملی سوداګرو او نورو پانګه والو سره پوره همکاری وکړی او ددی تر څنګ دی د امارتی امکاناتو په چوکات کی هم لازم په مختیایی پلانونه جوړ او تر لاس لاندی دی ونیول شی.

د پورته ټولو وړاندیزونو څخه مطلب دا ده چی زموږ ملی پانګه بهر ته ونه وځی، د بهرنیو اسعارو اخیستلو ته کم اړ شو او پر ځان د بسیاینی په لور ګام واخلو کله چی د ضروری توکو له اړخه بی غمه شو بیا کولای شو چی غټو صنایعو ته لار ومومو په خپله وسلی الوتکی، ماشینونه، د بریښنا وسایل، موټرونه او نور د اړتیا وړ سامانونه جوړ کړو او په دی توګه هم خپل احتیاجات رفع کړو او هم د ځان او الله «ج» د دښمنانو د ویرولو او مدافعی توان په ځان کی را پیدا کړو.

کرونولوژی (۲)

د افغانستان د سیاسی او ټولنیزی ګوډی علتونه

له ۱۳۳۲ نه تر ۱۳۷٤ هـ ش پوری

صلاح الدین «ابراهیم خیل»

لویدیز په تیره امریکا ددغه «مړ ژواندی» سیاست د خوځنده شاتلو په غرض له افغانستان سره د ځینو بی «پد له» تش په نامه پروژو په تشبث کوتی وهلی چه ګټه بی د روسانو په ځیر بوازی په دوی پوری اړه درلوده، او په حقیقت کی له سیاسی تیرایستنی پرته نور څه نه و له هغی جملی افغانستان ته د امریکی په سلګونو فنی، تخنیکی او فرهنګی «پیسکور» لنډ مهاله تش په نامه وربا راستونه، د «فول برایت» کلتوری غزونه په افغانستان کی د معارف د مدرسو درسی کتابونو، چټک او ښه چاپ په هیله د امریکا د «فرانکلن» د انتشاراتو له موسسي سره د پوهني وزارت د چاپ خاني د اجاري لس کلن قرار دا ته ګوته نیوای شو.

خو د عمل او نتیجی له مخی باید ووایو چه دا یو هم د افغان ولس په ګټه نه و په هغوی کی بوازی او بوازی د لویدیز امریکای سیاسی ګټی نغښتی وی داسی چی:

- د «پیسکور» ډله بوازی د CIA دستګاه پوری اړوند کسان وچی په نمایشی توګه افغانستان ته راغلل او د خپلو سیاسی مقاصدو تر لاسه کولو د «درومیاشتنو تیرولو» وروسته د ک لاس ستانه شول.

- «فول برایټ» پروګرام کی افغانی محصلینو ته د امریکا، اروپا کلتور ښوونه افغانستان ته بی راليږدونه او په هغه کی د افغانی او اسلامی کلتور هیرونه نغښتی وه او دا هغه اسلام ضد زهر و چی افغان روښنفکر نسل د اروپا په کپسول کی خواړه او اوس بی له شر فساده هیواد ځان نشی خلاصولای.

- «غفور روان فرهادی» د افغانستان پنځه څلویښت کلن سیاست پوه د ملګرو ملتو په سازمان کی د «ربانی» موبایلی تیلفونی دولت نماینده له ټولو زیات دغه اروپایی کپسولی زهر خوړلی څکه ده په افغانستان د امریکا - اروپا او ملګرو ملتو اسلام دښمنه اقتصادی بندیزو له ټولو اسلام دښمنو لومړی تائید کړ.

«فرانکلن» سره د پوهنی مطبعی اجاره سراسر د افغانستان په زیان وه ځکه «فرانکلن» د اجاری او وه کلو کی نه بوازی د کتابونو صحافت ښه نه شو کړای بلکه لږ تر لږه بی د افغانستان د معارف د فعالیت د وخت د کتابونو د تیراږ اندازه هم پوره نشوای کړای او د «الفبا» کتاب چی د ماشومانو د شوق هڅونی لپاره د افغانستان د معارف چاپخانی رنګه چاپاو د «فرانکلن» د اجاری په وخت د مطبعی د فعالیت د کمزوری له مخی «تور او سپین» چاپیده لکه چی معلوم ده د افغانستان پوهنی درسی کتابو د کمښت په وجه په دغو اووه کلو کی سخته فرهنګی ضربه ولیده. د ښوونځیو د «غاو» او شکایت له مخی د «فرانکلن» موسسی څخه لوری، لودن ورک شونو قرار دادیی یو اړخیز فسخ او چاری غرامت قدر هم وانه خیست.

د «داود» د حکومت چلښت چی د روسانو او د ددوی د الحادی عقایدو زهربی د افغان ولس خوان نوی نسل په رګ رګ کی ننه ایستل په هیواد کی داسی رسوا شو چی هر چا به ویل: افغانستان بی پلورلی، او دا ریښتیا هم وه.

په دغه مهال ظاهر شاه مجبور شو سکوت مات کړی، د شاهی کورنی د سلا مشوری له مخی یی د داود حکومت رنګ او لاس یی د «زرګری جنګ» د لوبی په ډود له کاره ویوست.

۱۳٤۳ هـ ش کال کی ظاهر شاه په دغه حکومتی رسوا او بد نام سیاست د سرپوښ ایښودلو لپاره د دولت په سیاست کی د خپلو تروټو او تره زامنو لاسوهنی ته د پای ټکی کیښود او ددرواغجنی انتقالی حکومتی دوری په پیل یی داسی تظاهر وکړ چه له یوی خوا یی دکتور محمد یوسف چې د ؛ولتی روشنفکرانو یو ځیرک او مرموز کس و حکومت جوړولو ته وګوماره او بل پلویی تش په نامه لویه جرګه د خپلو مشخصو لاسپوڅو څخه جوړه او په هغه بی د خپلی خوښی د نوی اساسی قانون مسوده تصویب کړه.

ددغه نوی اساسی قانون غټ ټکی دا و:

(پادشاه مصون او غیر مسول بلل - د پادشاه تره او تره زامنو ته د دولت په سیاست کی برخه نه ورکول د حکومت جوړیدل د پادشاه په خوښه او د شورا په منته او تصویب اړه لرل د شوری نماینده ګانو انتخاب د څلور کلو لپاره د ولس په ازاده، سری او مستقیمه رایه کیدل سیاسی ګوندونو ته د فعالیت اجازه او د هغوی د عقایدو څرګندولو لپاره د ملی جرایدو د خپرولو امتیاز ورکول). خو په عمل کی داسی ونه شوه بوازی ببرک کارمل او نور محمد ترکی ته د کمونست ګوند «خلق» او د هغوی د عقایدو خپرولو لپاره د «پرچم» په نوم جریدی ته امتیاز ورکړل شو که څه هم د ظاهر شاه لخوا د خلکو د تیر ایستنی لپاره په دغه ترڅ کی د وخت صدراعظم محمد هاشم میوند وال ته هم د مساوات نومی جریدی د خپرولو امتیاز ورکړل شو خو وروسته بی هغه د دولتی روشنفکرانو له لاری پدی تورن او اخبار بی بند کړ چه ګنی (دولت ګوند جوړوی که ګوند دولت؟!)

لکه چی هغه همدی شاهی دوکی او چل چی له یوی خوا یی د ګوند جوړلو او اخبار چلولو ته وهڅاوه او له بلی خوا یی په دولتی روشنفکرانو وراپه خوابدی او له خدمته لاس په سر کړ او په پای کی یی د داود د غلچکی کودتا د رامنځته شو دولت په واکمنی کی د کمونستانو په لمسون د کودتا په کولو تورن کړ او له یو شمیر نورو دولتی وطنپالو مشرانو سره په ډیره نادوده شهید کړ)

د شوری او د هغی د نماینده ګانو په انتخاب کی هم د خلکو په ګټه کوم مثبت بدلون رانغی. او هغه د چا خبره د پخوا په شان په دوه مخی کی پاتی شو.

داسی چی له انتخاباتو شپږ میاشتی روسبی به یو شمیر دولت پال باوری عناصر د حکومت لخوا په ګوته کیدل او د شهرت فهرست به بی د دولت د «ضبط احوالاتو» له لاری د ولایاتو، محلاتو او نورو قدمو مسولو کسانو ته استول کیده. او هغوی به په خپل وخت د انتخاباتو په موقع او هدایاتو مفادونه تعمیلول. او همغه په ګوته شوی کسان به بی شورای ته استول. د حکومت را منځته کولو کار هم د پخوا په شان نمایشی و «ظاهر شاه» به خپل باوری لاسپوڅی په ظاهر یو روښنفکر کس شورای ته د صدراعظم په عنوان ور په ګوته کړ او شوری به د منني مهر او ټاپه پری ولګوله.

په هیواد کی د خلق کمونست ګوند او د هغه نشراتی ارګان «پرچم» بوازنی سیاسی آزاد عنصر و چه په ملک کی بی دخپلو کمونستی عقایدو څرګندونی کولی دی ګوند او اخبار د هیواد په ټولو سیمو، طبقو او قشرونو ډیر ژر ناوړه اغیزه وکړه. دولتی روښانفکران، د مدارسو زده کوونکی د پوهنتون محصلان یی یو غلط، نامسم سیاسی بدلون ته په دوو پښو ودرول له جوماتو پرته په هره موسسه، مدرسه، کرونده او کار ګری دستګاو کی کمونستی ستاینی او ښتی رااوښتی لمونځ کوونکو مسلمانانو، ملایانو، اخندانو ته د اخوان الشیاطین نسبت کیده سپین پګړی او مومن کسان له شرمه د حیا او پټ څادر کی نغښتی ګرځیدل، او دی ته ورته و چی وایی: شری هم زما ورکه ده او پټ هم زه ګرځم د بیانونو او لیکونو په پای کی د والسلام او درناوی ځای د «پیروز باشید» او بریالی اوسی کلیمو نیولی او د لوړی او سوګند په ځای د شرافت کلیمی ته ورکړل شوی و.

د نور روغتون په اړونده څانګو کې ...

د نور روغتون د عامې روغتیا وزارت اړوند د معالجوی طب په چوکاټ کی فعالیت کوی او همدا اوس یی دری څانګی د کابل ښار په ګن میشتو سیمو وزیر محمد اکبر خان مینی، میوند روغتون او دریمی کارتی کی متمرکزی او فعالیت کوی او نارینه او ښځینه ناروغان تداوی کوی. ددی روغتون ورځنی چاری په بیلا بیلو څانګو کی سرته رسیږی چی په لاندی ډول دی:

د ناروغانو د ورځنیو کتنو څانګه د ستر ګو د جراحی عملیاتو څانګه، د سترګو او عینکو د نمرو ټاکلو څانګه، د عینکو جوړولو څانګه، درملتون، د مصنوعی سترګو جوړولو څانګه (پروتیز). د لابراتوار څانګه او اداري څانګه.

نوموړی زیاته کړه : د نور روغتون د دری ګونو مرکزونو د پرسونل ټول شمیر ١٢٤ تنو ته رسیږی چی په دی شمیر کی نارینه او ښځینه کارکوونکی شامل دی چی له دی جملی نه ١٧ تنه تکړه متخصصین او د تخصص کاندیدان او پاتی نور فنی او اداری پرسونل تشکیلوی.

دی زیاتوی : هره ورځ نږدی ٣٠٠ تنه ناروغان د درملنی لپاره نورو روغتون ته راځی هغه شمیر ناروغان چی پر له پسی کتنو او مراقبت ته اړتیاولری او یا د عملیاتو وړ وی مونږ هغوی بستر کوو که چیری د عاجل عملیات لپاره اړتیا و لیدل شی نو تر عملیات لاندی یی نیسو او پاتی نور په نوبت سره عملیاتو ته اماده کوو. او هغه ناروغان چی د بستر او عملیاتو اړتیایی نه لیدل کیږی تر لازمی تداوی او کتنی وروسته رخصت ورکول کیږی باید څرګنده کړم چی زمونږ په روغتون کی معالجه په مجانی ډول تر سره کیږی. که چیری کوم ناروغ عینکو ته اړتیا ولری نو د همدی روغتون له خوا د مناسب قیمت په بدل کی عینکی ورکول کیږی همدارنګه په زیاته اندازه دارو درمل هم په خپل روغتون کی لرو چی د بازار له نرخ نه په کمه بیه یی خپلو ناروغانو ته ورکوو. د یادونی وړ ده چی همدا اوس زمونږ په مرکزی روغتون کی ٣٠، میوند روغتون کی ٥٠ او د کارته سه روغتون کی ١٠ بستره لرو او د ناروغانو په خدمت کی دی.

په پای کی محترم متخصص زیاته کړه : زمونږ د روغتون سیار ټیم چی په هغه کی دری تنه تکړه ډاکتران، یو تن فارمسست، شپږ تنه نرسان، دوه تنه د سترګو او عینکو د نمرو ټاکونکی یو دریور، یو آشپز او یو تن خدماتی کارکوونکی شامل او په لازمو وسایلو، دارو درملو، او سامان آلاتو سمبال دی د هیواد بیلا بیلو سیمو ته لیږل کیږی تر څو له نږدی نه زمونږ له ګرانو هیوادوالو سره د سترګو د ناروغیو ددرملنی او تداوی په برخه کی مرسته او همکاری وکړی زمونږ دغه سیار ټیم همدا اوس د ننګرهار ولایت د خوږیانیو په ولسوالی کی خپلی روغتیایی دندی سرته رسوی.

و سید یوسف

د کرنې پراختیا بانک له کروندګرو سره ...

لرونکو او ٦٤ ملیونه نوری یی د دغه بانک د مرکزی اداری له خوا برابری شوی وی د کرنی او ملی صنایعو په نامه په فعالیت پیل وکړ. خو د تاسیس له ورځی بیا تر ١٣٤٧ کال پوری د یو لړ ستونزو له کبله دغه بانک ونه شوی کړی چی په خپلو اهدافو بریالیتوب تر لاسه کړی او په خپل کار کی پاتی راغی. د وخت حکومت وپتیله چی د یوسالم کرنی بانک په جوړولو اقدام وکړی. په ١٣٤٣ کال د ملګرو ملتو له موسسی سره د بانګ د منجمنت او تخنیکی استحکام تړون او په ١٣٤٩ کال له نړیوال بانک سره د پوراخیستلو تړونونه لاسلیک کړی شول.

د نوموړو تړونونو له مخی د مالی او حسابی څانګو، د کریدتی لوایحو او پورونو د مقررو د تنظیمولو او نورو برخو کی په نړیوالو معیارونو برابره رغنده همکاری ترسره شوه.

نوموړی زیاتوی : په ١٣٥٥ کال د پیسو او بانکداری قانون خپور شو، د بانک اساسنامه هم ددغه قانون له روحیی سره سمه بیا ترتیب او تصویب شوه او د ١٠٠٠ ملیونو افغانیو مجازی پانګی په لرلو سره یی خپلی کریدتی چاری پیل کړی. دغه بانک د خپلو چارو د پراختیا په خاطر په مرکز او ولایاتو کی ١٧ اصلی او ٨ فرعی نمایندګی پرانیستلی باید څرګنده کړم چی همدا مهال مونږ د خپلو پخوانیو پورونو د تحصیل په چارو بوخت یو. ده زیاته کړه په هیواد کی د دننه د قدرت په سر د خپل منځی سیالیو او جنګ جګړو په بهیر کی ددغه بانک اړوندو شتمنیو ته سخت درانه زیانونه واوښتل د هیواد په مرکز او ولایاتو کی زمونږ ټولی شتمنی لوټ او چور تالا شوی. همدا اوس مونږ د خپلو کروند ګرو د غوښتنو او اړتیاوو د پوره کولو لپاره هیڅ ډول امکانات په لاس کی نه لرو. له همدی امله زمونږ اصلی او اساسی چاری په ټپه ولاړی دی.

په پای کی محترم سمیع الله سلیم زیاته کړه هغه پورونه چی پخوا د کرنی پراختیا بانک له خوا کروندګرو ته ورکړل شوی وه د بهرنیو اسعارو په وړاندی د افغانی د ارزښت د رالویدو له امله اوس له هیڅ سره برابر شوی دی هغه فنی او مسلکی کدرونه چی په بیلا بیلو بانکی څانګو کی یی اختصاصی زده کړی درلودی د جنګ جګړو او اقتصادی ستونزو له امله یا بهرنیو هیوادو ته کډه شول او یا یی هم بانکی چارو ته شا کړه. همدارنګه د ١٣٧٦ کال د سنبلی د میاشتی په ٢٣ مه نیټه د بانکونو رئیسانو په خپله غونډه کی کروند ګرو ته د پورونو په ورکولو بندیزو لګاوه او پریکړه وشوه چی د پور ورکړه دی دا مهال بنده شی. مونږ هیله لرو چی د افغانستان د اسلامی امارت د لوړ پوړو چارواکو په پاملرنه او همکاری سره یو ځلي بیا خپلی بانکی چاری سمی او له سره پیل کړو.

سید یوسف

د کندز ولایت د ...

عظیم الشان د حفظ او تلاوت د فضیلت او د نیوي او اخروي ښیګڼو او په ټولنه کي د حافظانو د ارزښتناك او رغنده رول په باب خبري وکړي.

وروسته د کورنیو چارو د وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند لخوا ددغي مدرسي د لسو تنو حافظانو د فضیلت پګړي وتړل شوي او دین او هیواد ته د خدمت په لاره کي بي د دوي د لا زیاتو بریالیتوبونو هیله وکړه.

صد طفل با بیرحمي ...

گوید: كه نامه اي از سوي این قاتل سفاك كه اسمش را تذكر نداده بدست آورده است. در نامه گفته شده كه اطفال توسط تیزاب قتل شده و با این كشتار ها آتش انتقام او فرو نشسته و اكنون با اطمینان خاطر خود كشي مي كند.

وي اعتراف نموده كه اطفال فراري از خانواده هاي شان را در چوك آزادي، ماركیت سبزیجات و داتا در بار لاهور ربوده و چهره هاي آنان را با تیزاب مسخ كرده تا شناخته نشوند.

پولیس به اثر شكایت مردم وارد منزلي شد كه بگفته شاهدان عیني از آنجا بوي بدي به مشام مي رسید از منزل جسد دو طفل و بیش از صد جوره بوت لباس و تصاویر بدست آمده است.

تحقیقات در زمینه آغاز شده ولي از سرنوشت این فرد جاني خبري نیست.

مسابقه نیزه بازي ...

معین وزارت مالیه، تعدادي از مسوولین امارتي آن ولایت از آن دیدن نموده در پایان مسابقات براي نیزه بازان ممتاز تحایفي نیز توزیع گردید.

گفتگو جهت حل ...

زبانان و بعداً با تركي زبانان قبرسي مذاكراتي خصوصي انجام داد. این دو رهبر حاضر نشدند با یكدیگر بصورت مستقیم به دور یك میز مذاكره قرار گیرند.

از سال ١٩٩٧ میلادي كه مذاكرات میان دو طرف به شكست مواجه گردید این اولین بار است كه رهبر تركي زبانان قبرسي با رهبر یوناني زبانان قبرسي به وساطت ملل متحد به مذاكره مي پرازد.

قرار است این مذاكرات روز دوشنبه از سر گرفته شود.

د ګردیز له ملکي روغتون ..

اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ د ګردیز ښار د مسلم درملتون خاوند محترم داکتر عبدالقدوس احمدزي پنځه څلویښت قلمه ډول ډول درمل چي ټوله بیه یې یو ملیاردو شپاړسو ملیونو افغانیو ته رسیدي له یې وزلو ناروغانو سره د مرستي په مقصد د ګردیز د ملکي روغتون په واك کي ورکړیدي.

دده دغه بشر دوستانه مرسته د پکتیا ولایت د عامي روغتیا ریاست د روغتون د چارواکو لخوا په کور وداني سره منل شویده.

د جاپان له تودا موسي ...

چي په دي اړوند کیدي ناکافي ویللي او د بهرنیو موسسو د زیاتو مرستو او هلو ځلو غوښتنه یې وکړه. په مقابل کي ښاغلي اکیرا ژمنه وکړه چي د لشمانیا او ملاریا د ناروغیو علاج او درملني د پروګرامونو د عملي کولو په مقصد د عامي روغتیا له وزارت سره پروتوکول لاسلیك کړي.

مجاهدین چیچن تلفات ...

عساكر اشغالگر روسیه بصورت وحشیانه مهاجرین چیچن را كه میخواهند در نتیجه بمباري غیر انساني روس ها گروزني را ترك گویند هدف قرار میدهند.

آواره گان چیچین گزارش داده اند كه عساكر روس با سلاحهاي نیمه اتوماتیك و بدون هشدار قبلي به كاروان مهاجرین در چند كیلو متري گروزني آتش كشوده و چهل نفر از آواره گان را به شهادت رسانده اند.

در برابر این عملیات وحشیانه عساكر روسي مجاهدین چیچن سرسختانه از مواضع شان دفاع نموده و تلفات و خسارات زیادي را به عساكر اشغالگر روس وارد نموده است.

طبق یك خبر دیگر شوراي اروپایي به روسیه هشدار داده است اگر آنكشور به حملات وحشیانه خود به چیچین پایان ندهد از عضویت آن اتحادیه موقتاً خارج خواهد گردید.

شوراي اروپایي هنوز انتظار دارد كه روسیه موافقتنامه مورخ چهارم ماه نوامبر را رعایت كند كه در آن رعایت حقوق بشر در چیچین و توقف عملیات روسیه در آن جمهوریت مطالبه گردیده است.

د بهرنیو چارو وزارت

او د بهرنیو چارو وزارت معین د افغاني سوداګرو د ترانزیتي ستونزو په باره کي خبري وکړي او ټینګار یې وکړ چي ددغي ستونزي د حل کولو په لاره کي دي د پاکستان د اسلامي جمهوریت لخوا اقدام وشي.

په مقابل کي په کابل کي د پاکستان سفیر څرګنده کړه چي دغه ستونزه به له اړونده مقام سره طرحه کړي او په دي برخه کي به له هیڅ راز همکاري څخه ډډه ونه کړي.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنې
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

جرگه یي در دیار دور!

در رابطه با افغانستان هر چند گاه یكبار تلاش جدیدي رواج مي یابد و شكل و به اصطلاح (مود روز) را بخود مي گیرد در یك دوره تنظیم سازي ها و سازمان بازي ها وسیله یي براي كسب شهرت و وجاهت در میان ملت تلقي مي شد درین دوره دهها سازمان و تنظیم و حزب قدو نیم قد قامت بر افراشتند كه تعداد آنان در ایران و پاكستان به دهها تنظیم بالغ مي شد.

رفته رفته تب سازمان سازي به عرق نشست و جاي خود را به نشرات ظاهرا آزاد داد كه در محیط هجرت از وضع انتقاد مي كردند تا زمانیكه روسها در افغانستان بصورت غیر مستقیم و بعد با هجوم نیرو هاي نظامي بشكل مستقیم مداخله داشتند بزرگاني كه در كشور هاي اروپایي یا امریكا سكونت داشتند در مخالفت با تجاوز روسها كمتر لب به سخن مي كشودند. با جرئت ترین عناصر این جماعت فقط گاهگاهي با مصاحبه هاي رادیویي از وضع انتقاد مي نمودند. بعضي از این بزرگان رسالت خود را در نوشتن خاطرات گذشته و تحلیل زمینه هاي كه به سقوط افغانستان در دامان استعمار سرخ منجر شد تمام شده مي پنداشتند.

در چند سال اخیر مسئله خاطرات نویسي (مود روز) شد به این معني كه هر كسي كه در دورانهاي گذشته صاحب مقام و منصبي بود سعي كرد تا با نوشتن خاطرات خویش خود را از وقایعي كه بعد ها به فاجعه هفت ثور انجامید برائت دهد

پس از سرنگوني رژیم نجیب و بقدرت رسیدن به اصطلاح (مجاهد) در افغانستان كه جنگ قدرت میان تنظیم ها مصایب بزرگ براي افغانستان و مردم آن ببار آورد، تشكیل شورا هاي صلح رونق بازار یافت بدون اینكه از این شورا ها در جهت تامین صلح اثري به مشاهده برسد.

با سرنگوني رژیم رباني و بوجود آمدن امارت اسلامي افغانستان مسئله جرگه ها و شورا ها بشكل جدید آن مطرح شد. هر كسي كه توان و امكاني از نظر مادي داشت سعي نمود تا عده یي را دور خویش جمع نموده و در بیرون مرز شورایي را بنیاد نهد. عجیب اینجاست كه بعضي از گردانندگان این شورا ها كساني بودند كه بعد از سرنگوني رژیم رباني از كابل فرار كردند و بیشتر اعضاي این شورا ها را هم كساني تشكیل میداد كه در نتیجه جنگ هاي تنظیمي كه همین دست اندر كاران امروز شورا در آن نقش داشتند مجبور به ترك افغانستان شده بودند.

آخرین رواج در رابطه با مسئله افغانستان، ساختن جرگه ها و گردهمایي ها بسیار دور تر از مرز هاي افغانستان است جلسه در قبرس جلسه در روم جلسه در آلمان ... و همه ظاهراً با این هدف كه راه حلي براي مشكل افغانستان جستجو شود.

مي بینیم كه این تلاش ها بجاي اینكه به افغانستان نزدیكتر شود روز بروز از كشور اصلي خود یعني مركز دور تر مي رود، ظاهرا بهانه هم اینست كه در كشور هاي همسایه احتمال مداخله و اعمال نفوذ بیشتر است. سوال اینجاست كه آیا در كشور هاي دور دست تر میتوان از مداخله و اعمال نفوذ بیگانگان جلوگیري كرد ؟

در جلسه یي كه در شهر روم تحت ریاست محمد ظاهر، شاه مخلوع افغانستان دایر گردید روي لزوم تدویر یك لویه جرگه اضطراري توافق صورت گرفت تا در آن نمایندگان تمام اقوام و مناطق افغانستان اشتراك نمایند. سوال عمده اینست كه محل تدویر این لویه جرگه كجاست ؟

در گذشته لویه جرگه ها در داخل افغانستان تشكیل گردیده بود تا دولت هاي حاكم حمایت مردم را بخود جلب نمایند. اینها مردم خارج از افغانستان نبودند بلكه مردمي عملاً در صحنه حاضر بودند اما امروز اگر لویه جرگه یي مثلاً در اروپا دایر گردیده و در آن مردماني وابسته به مناطق مختلف افغانستان كه در اروپا و امریكا زندگي مي كنند شركت نمایند، چنین جرگه یي تا چه حد میتواند گره گشاي مشكلات باشد ؛

آیا بهتر نیست این آقایان قبل از هر كاري قدم تا به كشور جنگزده و ویران خود رنجه نمایند و با ملت مصیبت دیده مستقیماً در تماس شوند. خواست ها و نیاز هاي آنان را از زبان خود شان بشنوند ؟

یكي از دلایل (و شاید مهمترین دلیل) كه آقایان ارائه میدارند اینست كه رفتن به افغانستان براي ما ممكن نیست زیرا طالبان قانون سخت گیرانه در مورد ریش را بر جامعه اعمال كرده اند و كسانیكه ریش مي تراشند نمي توانند به افغانستان بروند ما وطنپرست هستیم ما به مردم خود علاقه داریم ولي بخاطر این قانون از رفتن به افغانستان معذوریم!

عجیب است كه شما ادعا هاي چنان بزرگ دارید ولي بخاطر این وطن و این ملت حاضر نیستید ساده ترین كار یعني گذاشتن ریش را بر خود عملي سازید پس چگونه اشخاصي چون شما قادر خواهند بود در برابر این وطن و این ملت دست به ایثار و از خود گذري بزنند و مشكل زندگي در كنار این مردم در افغانستان ویران و جنگزده را بر خود هموار سازند ؟

SHARIAT WEEKLY

Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press